# په پښتو کښې د هيئت له رويه د ټپې څرنګوالے
## (يوه څېړنه)

ډاکټرقدر واحد (سمندر يوسفزے) *

# An analysis of the different structure of Pashto tappa

1. Dr Qadar Wahid (Samandar Yousafzay), lecturer University of Malakand,

## Abstract
An analysis of the different structure of Pashto tappa

*Tappa is an ancient, pragmatic and simplest genre of Pashto folk literature. Having of a very few words, it hold a complete and concise meaning. Comprised these feature; tappa is recognize one of the unique genre of Pashto folk literature. Tappa carries modest place being a genre and yet to come for critics point of view very little. In reality, these two lines are as extensive and in their form and style as they are in meaning and essence. This paper is an academic endeavor to highlight the numerous style and form of tappa which have not been introduced in the light of authentic and reliable sources.*

ادب د ژوند ترجمان وي او بيا په تېره تېره خو اولسي ادب د اولس د احساساتو او جزباتو د اظهار سوچه او رېښتينې ذريعه وي. ټپه د اولسي ادب مور ګڼلې شي، چې په خپل وړوکي شان وجود کښې لوئې لوئې معنوي جهانونه د خپل اصليت، جامعيت او کامليت په سوب خوندي کوي. د پښتنو د نفسياتو او د اولسي ژوند عکاسي په داسې ډول وړاندې کوي چې د مهد نه واخله تر لحد پورې پکښې د پښتون اولس ژوند په بشپړه توګه روڼ برېښي. ددغه صلاحيت او قدرت کمال د ټپې په مخصوص او زوردار هيئت کښې دے.

هيئت د عربۍ ژبې ټکے دے چې معنیٰ ئې "شکل" [i] ، "بناوټ، ساخت، (۲) صورت" [ii] دے. " د لغت په روح سره هيئت د داسې خارجي شکل نوم دے چې د يو شي د انفراديت حدونه ټاکي او په فني اعتبار سره د اظهار د خارجي صورت نوم دے" [iii] د څه په سوب چې يو موضوع او مضمون په فني پيکر کښې وړاندې کولې شي.

ټپه چې په مختلفو سيمو کښې د لنډۍ " مسرۍ، ټپلۍ په نومونو يادېږي " [iv] يو داسې منفرد هيئت لري. محض په دواؤ مصرعو مشتمله وي. يوه مصرعه لنډه يعني نهه او دويمه مصرعه اږده يعني ديارلس سېلابونه لري. دغه ئې يو ټاکلے او منلے شوے هيئت دے. د هيئت په حواله چې مونږ د نړۍ په شعري صنفونو نظر اچوؤ نو د ټپې په شان ربط ، رنګ او اهنګ چرته هم په نظر نه راځي. اګر چې د پنجابۍ ماهيا څه قدرې د دواؤ مصرعو په حواله څه لږ ډېر مماثلت لري. ولې د ماهيا د دواړو مصرعو د سېلابونو او د دواړو مصرعو په خپل مينځ کښې د تړون نه لرلو په سوب ټپه خپله ځانګړتيا برقراره ساتي. د ماهيا او ټپې د يو بل سره د ربط او تړون په حقله سلمیٰ شاهين ليکي.

---

*ليکچرار پښتو څانګه ملاکنډ پوهنتون

" په پښتو لنډۍ کښې همېشه يوه قافيه چلېږي چې ددې سره مختص شوې ده ددې روايت نه لا تر اوسه پورې بغاوت نه دے شوے. خو د پنجابۍ په ماهيا کښې د قافيې هيڅ قېد نه وي. دويم د لنډۍ په يوه نيمه مصرعه کښې د وړمبۍ نيمګړې مصرعې د دويمې پوره مصرعې سره پوره تړون وي. حالانکې په پنجابۍ ماهيا کښې په عام طور د وړومبۍ نيمګړې مصرعې د دويمې پوره سره هيڅ تعلق نه وي " [v]

د سلمیٰ شاهين دغه خبره کره ده چې د پنجابۍ ماهيا د وړومبۍ مصرعې د دويمې سره هيڅ تعلق او ربط نه وي. بلکې دويمه مصرعه د وړمبۍ مصرعې هيڅ محتاجه نه وي. په معنوي لحاظ په خپل وجود پوره وي. خو پاتې شوه د ټپې د اختتام خبره چې دوست محمد دوست ئې هم تايد کوي ليکي چې " د لنډۍ دويمه مصرعه همېشه په (ونه- una )، (ځرګند واو)، (ينه- ina )، (ځرګنده ی)، (زورکی+ ana )، (زورکی+ مه)،( مجهوله يې x مه) پائې ته رسيږي. لکه:-

په لوړو غرو د خدائے نظر دے

په سر ئې واورې وروي چاپېر ګلونه

که په ميوند کښې شهيد نۀ شوے

خدائيګو لاليه بې ننګۍ له دې ساتينه

زما په رنځ جانان خبر دے

دارو خو نه کړي تش مې نه کوي پښتنه

په خندا شنه په ملا شوې ماته

د جنت حورې په ګولۍ دے اوويشتمه

زما په دې وطن کښې څه دي

ملالو سترګو د اشنا بند کړے يمه " [vi]

دغه خبره که په اکثريتي حواله اوئيلے شي نو بيا سمه ده. خو بېخې داسې هم نه ده چې د ټپې خاتمه دې خامخا په (نه) او(مه) وشي. زمونږ سره يو شمېر داسې ټپې شته چې ددغه خيال سره سمون نه خوري چې ټپه همېشه په يوه قافيه ختمېږي. د مثال په ډول څو ټپې،

ارمان د سپينو پاڼو خيالله

راغلے مه وائ زرورقي له کابله [vii]

اصيله ووم کم اصلو يوړم

کم اصله داسي مې ساتي لکه مغله [viii]

خاونده ما خو داسي نه وې

چې د جانان لاره يوه شي زما بله [ix]

غم تېروه ښادي به راشي

يو ځل به وځانګے د زلفو په ټالونو [x]

سلام په سرو شونډو مزه کا

د مسافرو سلام ځي په کاغزونو [xi]

آ پخوانی مینه دي نشته

چې شريف ځان دې غورځوۀ له ګړنګونو [xii]

رامداد د خاورو لائق نه دے

تر لاندې واچوئ بخمل په امبارونو [xiii]

جانان که خس دے زما بس دے

زما توبه ده د پردو د ديدنونو [xiv]

که خدائے کول خدائے به مې درکړي

ميئنه مه شلوه تئی په زيارتونو [xv]

له ربه تللے جانان غواړم

ځکه سرتور ګرځم مدام په زيارتونو [xvi]

د هر شعري صنف ټول دارومدار په وزن او بحر وي. د ټپې يو ځانګړے خاصيت يو ټاکلے بحر دے. چې تر اوسه پورې ددغه روايت نه بغاوت نه دے شوے. ځکه چې د ټپې وجود دومره نازک دے چې په معولي لاندي برې پکښې واضحه فرق راځي. او دغه بغاوت جرم او کمزوري ګڼلے شي. چې د ټپې په صحت ډېر خراب اثر کوي. دغه وزن همېشه بحر او قافيې ته اړتيا لري. چونکي د ټپې يو مخصوص بحر دے نو بيا د وزن د بدلون دپاره محض قافيه پاتې کيږي. خو د ټپې کمال دا دې چې په يو ټاکلي بحر کښې يوځې د قافيې په استعمال مختلف اوزانونه پيدا کوي. او په زوردار هيئت کښې ئې دا قدرت شته چې د هرې سيمې خلق دې ټپه په خپل رنګ او آهنګ کښې اووائي. " لنډی د اهنګ او زغ د هر وزن تابع وي. په هر ډول چې ئې اړوې اړول کيږي. غالباً د پښتنو په هر ګوټ او ځائې

او هره قبیله کښي بېل بېل آهنګ او وزن لري. لکه تیراهي، شلګري، مسیري، پېښوري، قندهاري، وردکي او نور" xvii

په شعر کښي رواني او چستي قافیه راولي او په وزن کښي بدلون هم د ټپي په وجه راځي. په ټپه کښي قافیه په مختلفو اندازونو راوړلے شوے ده. ځکه نو ټپه د خپل مختصر هیئت باوجود متنوع اوزان لري. زمونږ سره یو شمېر داسي ټپي شته چي وړومبی مصرعه چي په کومه قافیه ختمېږي، دویمه مصرعه هم په هغه قافیي ختمېږي. د دواړو قافیو په وجه که یو اړخ د ټپي پهٔ هیئت کښي اضافه کیږي نو بل خوا ئي پهٔ وزن کښي هم اضافه کېږي. د مثال په طور دا ټپي.

ارمان ارمان خپله وطنه

د خپل وطن جامي مي اولوېدي د تنه xviii

په سپینه ږیره ډېره مینه

په تور پیکي مي لاس وهي خندا راځینه xix

په حال مي مه کوه ېښتنه

لکه پردېس مړے چي پروت وي بې کفنه xx

په دېوال مه ږده قدمونه

خلق پوهیږي بیا به وائي تهمتونه xxi

په ګلاب ګل دے اویشتمه

تر لاس دي جار شم رقیبانو ولیدمه xxii

په لوړو غرو شپیلی وهینه

تر خدائے مي جار کړے لالے ما وریادوینه xxiii

په اشنائی د نازبدمه

په جدائی دے لکه ګل ورژبدمه xxiv

په بر بر راشه د یار غمه

که سل مي نور وي تا به پاس په تندي ږدمه xxv

ارمان ارمان سپینه سیوږمیه

سلام مي وروړه د همزولو تر کیږدیه xxvi

` په ټپه کښې د قافيو استعمال په يو بل رنګ هم موجود دے. چې د هيئت په چوکاټ کښې دننه يو غوره او ګټوره تجربه ضرور ده. په دغه قسمه ټپو کښې ورومبی مصرعه چې په کومه قافيه ختمه شوې وي. ددويمې مصرعې پنځم سپلاب په هم هغه قافيه تماميږي. چې د ټپې په مختصر هيئت کښې د يو روان او چُست وزن اضافه کيږي. څو ټپې ئې په دا ډول دي.

چې راپه زړه شي د ګل څوکې

د خولې مې کوکې د مجنون په شانې ځينه xxvii

د غره په سر رڼا ښکاريږي

رامعلوميږي چې جانان وطن له ځينه xxviii

رنګ ته مې وګوره سور اور دے

مکتب سور اور دے په لمبو ئې سوې يمه xxix

زلفې ږومنزې بې ږومنزې

دا د غم خنځې مې په زړه حواله دينه xxx

تر و تازه زيړه نارجه

زيات له ترنجه په پولاؤ دې يادومه xxxi

تور دې پړونې سره ئې غاړه

ما پکښې نغاړه مسافر راغلے يمه xxxii

تور دې پيکے نرۍ دې ورځې

که ته راوځې ما به ورک کړے له وطنه xxxiii

توتې خاورې ايرې شوم

ډېر بې اسرې شوم څوک مې نه کوي پوښتنه xxxiv

جامې مې تن کښې سور انګار شي

خطامې وار شي چې له تانه جدا شمه xxxv

جانان زما ګل د زمبق دے

زما سبق دے هر سبا ئې يادومه xxxvi

جانانه ستا په محبت کښې

هر مصیبت کښې نامه ستا په خوله راځینه [xxxvii]

اور دے راپورې کړو جانانه

ستا له نیرانه مې لوګے فلک له ځینه [xxxviii]

ارمان ارمان د دادا کوره

د ډکه شکوره به چاپېره تاوېدمه [xxxix]

اسمان زما په نارو شین دے

زړګے مې خوړین دے چې جدا د یاره یمه [xl]

دغه شان په یو شمېر ټپو کښې درې قافیې استعمال شوي دي چې د فن اعلیٰ ثبوت پېش کوي. په وړومبی مصرعه کښې دوه قافیې په مناسب ترتیب سره ځائې شوي دي. او بیا هم دغه قافیه کله د ردیف سره او کله یواځې په پنځم سېلاب ختمېږي. چې د ټپې په هیئت کښې د یو غورې او کامیابې تجربې سره سره د چستۍ او موسیقیت پیدا کېدو سبب ګرځي. د نمونې په طور څو ټپې دا رنګ دي.

زړه مې ناسور دے رنګ مې سور دے

دا مې قصور دے چې په تا مئینېدمه [xli]

ټوټې ټوټې خاورې ایرې شوم

ډېر بې اسرې شوم څوک مې نه کوي پوښتنه [xlii]

جانان جانان دے په ما ګران دے

ګل د رېحان دے د زړه باغ کښې ئې ساتمه [xliii]

چې تر سر تېر وي ډار ئې هېر وي

یو سړے ډېر وي چې ایمان ورسره وینه [xliv]

زلفې زرمنځې بې زرمنځې

دا د غم خنځې مې په زړه حواله دینه [xlv]

سترګې دې تورې په چل ګورې

د لیلیٰ خورې په کتو دې مئین کړمه [xlvi]

عشق دي موږ میني دي زوږ کړم

غم دے نچوړ کړم خالي پوک د ګانۍ شومه [xlvii]

کاغذه ورشه جلوه ګر شه

د یار په در شه ته د حال وکړه پوښتنه [xlviii]

مخ دي مشال شوندې دې لال دي

وروځې حلال دي دواړه سترګې دي لالونه [xlix]

ورک شے بیلتونه غم زرغونه

په زړه داغونه ستا د غمه ګرځومه [l]

اسمان خو شین پاس په جبین دے

پاچا د چین دے ایلوي یاغي ملکونه [li]

اشنا سوربړي روانبړي

زما ورانبړي د محکوم زړګي برجونه [lii]

داسي ټپي هم په یو شمېر کښي شته چي په وړومبۍ مصرعه کښې ئې تجربې شوي دي او دوه هم آواز الفاظ یعني قافیې پکښي د هرې مصرۍ په مناسبت سره استعمال شوي دي چي د ټپې په هیئت کښي ئې د یو بل رنګ اضافه کړې ده. د مثال په ډول دا ټپې

خوک چي شیدا شي په سودا شي

د ورځي ژاړي د شپې سوچ فکر کوینه [liii]

خواته مي راشه په خندا شه

چي رانه ببرته شي درانه درانه غمونه [liv]

زما زړګیه لیونیه

چي له سلګونو جونو غواړې دیدنونه [lv]

زه په ایلاغ جانان په داغ دے

چي رمه بیایم ورته خولي رالګوینه [lvi]

سپینې سپوږمیه ګړندیه

په دواړ مئینو پسې مه وړه مشالونه [lvii]

عاشقي ښه ده بده نه ده

څلور یاران زمونږ رسول موندلې دینه [lviii]

عالمه وړ ځان به څوک پېر کړه

زه د جانان دپاره وړ ځان پېرومه [lix]

جانان سود خور شو زړه مې تور شو

لکه د کډې سپے په هر چا پسې ځمه [lx]

باران وربږي ختې کېږي

قدم زما پۀ قدم بږده راځه دننه [lxi]

باغ چې دَ زاغ پۀ حواله شي

بلبل نرے فریاد کوي دَ ملکه ځینه [lxii]

چې لۀ اؤ لور شي خواري زور شي

پۀ بخملې ګوتو به وږي تولوومه [lxiii]

د هیئت په حواله د ټپې یو بل خوندور رنګ ، په دویمه مصرعه کښې د دوؤ قافیو استعمال په نظر راځي. دغه تجربې که یو خوا دټپې افاقي هیئت نه دې متاثره کړے، نو د ټپې په وزن او آهنګ کښې ئې رواني او تنوع ارو مرو راوستې ده. د مثال په توګه دا ټپې.

خلق به وائي چې وړه ده

وړی زما پۀ زړۀ چړی مندلې دینه [lxiv]

عاشق خو ټول عمر خمژن وي

په زړه دردمند تل آرزومند د دیدن وینه [lxv]

په شمند روز کښې نه ودرېږم

ماله ملل د لارې مل راوړه میئنه [lxvi]

ته چې راځې ما به خبر کړې

چې په پالنګ لاچي لونګ وغوړومه [lxvii]

اشنا زما نه مخ پنا کړو

لکه سپیيَ د بې وسيَ ناريِ وهمه [lxviii]

ټپه که یو خوا په موضوعاتي لحاظ فراخي او بشپړتیا لري. نو بل خوا د هیئت په حواله ئې لچک او برداشت هم د حېرت وړ دے. اګر چې د بحر په حواله که هیڅ قسمه نرمي او کوتاهي نشي زغملے، ولې په خپله وړوکي شان غېږ کښې د هر قسمه قافیو په تجربو قبلولو کښې ثاني نه لري. ځکه نو ددغه فراخدلۍ په سبب د ټپې په ذخیره کښې د هیئت په حواله د هر نوع هر وزن او اهنګ ټپې وینو ګورو. چې د خپل فطرت عېن مطابق پکښې د روانۍ او مستۍ سره سره د موسیقیت او غنایت موجونه په غورنګ دي.

---

[i] قلندر مومند، فرید صحرائي، پښتو لغت درياب، این ډبلیو ایف پي، ټېکسټ بک بورډ پېښور، ۱۹۹۴ء، مخ ۱۳۱۷.

[ii] مولوي، فیروز الدین مرحوم، الحاج ، فیروز اللغات ، پانچواں اشاعت، فیروز سنز پرائیویټ لمټډ لاهور، ۲۰۱۲ء ، مخ: ۱۵۲۸

[iii] خټک، فضل میر، فضلیات، د چاپ ځائے نه لري، ۱۹۹۹ء ، مخ:

[iv] شینواري، دوست محمد، دوست، د پښتو اولسي ادب لارې، دویم چاپ، دانش خپرندویه ټولنه پېښور، ۲۰۰۴ء ، مخ ۷۱

[v] سلمیٰ شاهین، پېغله، د پښتو ټپې معاشرتي او ثقافتي اثر، پښتو اکېډمي پښور یونیورسټي، ۱۹۸۹-۱۹۸۸ ، مخ:

[vi] شینواري، دوست محمد، دوست، د پښتو اولسي ادب لارې، دویم چاپ، دانش خپرندویه ټولنه پېښور، ۲۰۰۴ء ، مخ ۷۰

[vii] مومند، مجاور احمد، سلېمان لائق، پښتو لنډۍ، د افغانستان علومو اکېډمي کابل، ۱۳۶۳ هـ ، مخ: ۸

[viii] ژواک ، محمد دین، پښتني سندرې (لومړۍ برخه) ، د پښتو ټولنې د ادبیاتو له خوا افغانستان، ۱۳۳۴، مخ: ۶

[ix] شاهین، سلمیٰ ، پروفېسر ، روهي سندرې (دویم چاپ) ، پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي، ۲۰۱۳ء ، مخ: ۲۴۵

[x] خان، عبدالولي خان، ملغلرې، ډائریکټریټ آف کلچر خیبر پښتونخوا، ۲۰۱۳ء ، مخ: ۵۱

[xi] هم دغه کتاب ، مخ: ۵۱

[xii] هم دغه کتاب ، مخ: ۶۷

[xiii] هم دغه کتاب ، مخ: ۷۹

[xiv] هم دغه کتاب ، مخ: ۳۳

[xv] هم دغه کتاب ، مخ: ۵۶

[xvi] هم دغه کتاب ، مخ: ۸۰

[xvii] پښتني سندرې (لومړۍ برخه) ، د پښتو ټولنې د ادبیاتو له خوا افغانستان، مخ: د

[xviii] روهي سندرې (دویم چاپ) ، پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي ، مخ: ۶۵

[xix] هم دغه کتاب ، مخ: ۱۳۴

[xx] سلمیٰ شاهین، روهي سندرې (ټپې) دویم جلد ، پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي، ۱۹۹۴ء ، مخ:۸۲

[xxi] هم دغه کتاب، مخ: ۸۵

[xxii] هم دغه کتاب ، مخ: ۹۳

[xxiii] هم دغه کتاب ، مخ: ۹۵

[xxiv] پښتني سندرې (لومړۍ برخه) ، د پښتو ټولنې د ادبیاتو له خوا افغانستان، مخ: ۳۵



Pukhtunkhwa Journal

---

[xxv] روهي سندرې (دويم چاپ) ، پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي، مخ: ۱۱۸
[xxvi] پښتنې سندرې (لومړۍ برخه) ، د پښتو ټولنې د ادبياتو له خوا افغانستان، مخ: ۲
[xxvii] روهي سندرې (دويم چاپ) ، پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي، مخ: ۲۱۹
[xxviii] روهي سندرې (ټپې) دويم جلد ، پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي، مخ: ۱۸۱
[xxix] هم دغه کتاب ، مخ: ۱۸۵
[xxx] هم دغه کتاب ، مخ: ۱۸۷
[xxxi] هم دغه کتاب ، مخ: ۱۰۹
[xxxii] هم دغه کتاب ، مخ: ۱۱۱
[xxxiii] هم دغه کتاب ، مخ: ۱۱۱
[xxxiv] هم دغه کتاب ، مخ: ۱۱۹
[xxxv] هم دغه کتاب ، مخ:۱۲۱
[xxxvi] هم دغه کتاب ، مخ: ۱۲۴
[xxxvii] هم دغه کتاب ، مخ:۱۳۱
[xxxviii] روهي سندرې (دويم چاپ) ، پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي، مخ: ۷۹
[xxxix] هم دغه کتاب ، مخ: ۶۶
[xl] روهي سندرې (ټپې) دويم جلد ، پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي، مخ: ۴۴
[xli] روهي سندرې (دويم چاپ) ، پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي، مخ: ۴۰۱
[xlii] روهي سندرې (ټپې) دويم جلد ، پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي، مخ: ۱۱۹
[xliii] هم دغه کتاب ، مخ: ۱۲۲
[xliv] هم دغه کتاب ، مخ: ۱۴۱
[xlv] هم دغه کتاب ، مخ: ۱۸۷
[xlvi] هم دغه کتاب ، مخ: ۱۹۲
[xlvii] هم دغه کتاب ، مخ: ۲۱۱
[xlviii] هم دغه کتاب ، مخ: ۲۲۳
[xlix] هم دغه کتاب ، مخ: ۲۲۸
[l] هم دغه کتاب ، مخ: ۲۳۴
[li] پښتو لنډۍ، د افغانستان علومو اکېډمي کابل، مخ: ۴
[lii] روهي سندرې (دويم چاپ) ، پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي، مخ: ۷۲
[liii] روهي سندرې (ټپې) دويم جلد ، پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي، مخ: ۱۳۵
[liv] هم دغه کتاب ، مخ: ۱۷۶
[lv] هم دغه کتاب ، مخ: ۱۸۹
[lvi] هم دغه کتاب ، مخ: ۱۸۹
[lvii] هم دغه کتاب ، مخ: ۱۹۱
[lviii] هم دغه کتاب ، مخ: ۲۰۷
[lix] هم دغه کتاب ، مخ: ۲۱۰
[lx] هم دغه کتاب ، مخ: ۱۲۴
[lxi] روهي سندرې (دويم چاپ) ، پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي، مخ: ۸۲

[lxii] هم دغه کتاب، مخ:۸۴
[lxiii] هم دغه کتاب، مخ:۲۲۳
[lxiv] روهي سندرې (ټپې) دويم جلد ، پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي، مخ: ۱۶۹
[lxv] هم دغه کتاب ، مخ:۲۰۶
[lxvi] هم دغه کتاب ، مخ:۹۰
[lxvii] هم دغه کتاب ، مخ:۱۱۵
[lxviii] هم دغه کتاب ، مخ:۴۵

Pukhtunkhwa Journal